## مطبوعاتي اعلامیه

# له شک پرته، یوازې زموږ ډال خلافت په مستعمره کشمیر کې د ځورېدلو، معلولینو او سرښندونکو کسانو اوښکې پاکولی شي

په داسې حال کې چې د هندو دولت ځواکونو په مستعمره کشمیر کې سرښندونکي ځوانان په شهادت ورسول، پاک لمنې ښځې او بې گناه ماشومان یې بې عزته کړل، د پاکستان لومړي وزیر د نړیوالې ټولنې د خواشینوونکي ځواب د تر لاسه کولو لپاره زاریو ته ادامه ورکړې. داسې انگېرل کېږي چې له غابښ ټومبنې پرته بل هېڅ شی په لاسونو کې نه لري. د ۲۰۱۹م کال د سپټمبر پر ۵مه عمران خان داسې ټوېټ وکړ: «ایا د نړیوالې ټولنې انسانیت په داسې حال کې چې مسلمانان تر ظلم او شکنجې لاندې دي مړ دی؟» په داسې حال کې چې د نړۍ د سترو پوځونو له ډلې څخه د شپږم پوځ قومانده پر غاړه لري. د باجوه ـ عمران ړوند رژیم یوازې له هغه چا د مرستې غوښتنه کوي له کوم چا چې زیان ویني. په حقیقت کې، نړیواله ټولنه له ښکېلاگرو ځواکونو سره یو ځای اسلامي خاورې یو له بله بېلوي یا یې هم تر خپل ښکېلاک لاندې راولي او یا د همدې کارونو لپاره د نورو سره مرسته کوي. له نړیوالې ټولنې څخه مرسته غوښتل داسې دي لکه د پسونو ساتلو لپاره چې له لېوه څخه څوک مرسته وغواړي. ولې خپله مسلمان واکمنان چې له میلیونونو څخه د ډېرو سرتېرو واک او اختیار لري او په نړیوال دولت او شتمنیو کې شریک دي؟! ایا په دوی کې د ژوند کومې نښې نښانې ښکارې، په داسې حال کې چې مستعمره کشمیر، د فلسطین سپېڅلې خاوره، چین او میانمار (برما) تر ښکېلاک لاندې دي؟ دوی یوازې گرځېدونکي جسدونه دي، چې د ژوند کومه نښه پکې نه ښکاري. د ژوند نښې نښانې یوازې د لویدیځ په واکمنانو کې ښکاري، چې د مسلمانانو وینې تویوي یا هم له هغو کسانو څخه د سولې او نرمۍ په بې کمپوزه موسیقۍ سره ملاتړ کوي، چې د مسلمانانو وینه تویوي. الله سبحانه و تعالی فرمایلي دي:

**﴿قَاتَلَهُمُ اللَّهُ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ﴾**

[المنافقون: ٦٣]

*__ژباړه:__ الله تعالی د دوی ووهي؛ دوی څه ډول له حق څخه انحراف کوي؟*

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له شک پرته، د مسلمانانو واکمنان له موږ سره په خواخوږۍ، هیلو او غوښتنو کې ډېر توپیر لري. ځکه موږ په ملگرو ملتونو باندې د بطلان خط کش کړی، خو د پاکستان واکمنان تر اوسه پورې د

یرغلگرو سره د مسلمانانو د خاورې په وېشلو کې مرسته کوي. په داسې حال کې چې موږ په بېړه د پاکستان د وسلوالو ځواکونو له زمريانو غواړو چې په مستعمره کشمیر کې مسلمانان آزاد کړي، د پاکستان واکمنان د خپلې تمبلۍ له امله پلمې لټوي، له دښمن او خپله جګړې څخه زموږ په زړونو کې وېره اچوي. له هر څه وړاندې، له شک پرته خلافت د امت ډال دی او یوازې همدا خلافت کولای شي چې په مستعمره کشمیر کې د مودي رسوا جګړې ته په زور او قدرت سره ځواب ووايي. رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي:

**«إِنَّمَا الْإِمَامُ جُنَّةٌ يُقَاتَلُ مِنْ وَرَائِهِ وَيُتَّقَى بِهِ»**

(مسلم)

***ژباړه:** امام (خلیفه) هغه ډال دی، چې تر شا یې جګړه کېږي او پر هغه باندې ځان ساتل کېږي.*

دا ښکاره ده، تر څو موږ ډال بېرته نه وي تر لاسه کړی، د مسلمانانو ظالم واکمنان به د صلیبي، هندو او عیسوي جګړو او ښکېلاک لپاره لار هواروي. راځئ ټول د هغه قانون د حاکمیت لپاره چې د الله تعالی له لوري رالېږل شوی ملا وتړو. د پاکستان د وسلوالو ځواکونو زمريان پرېږدئ چې د نبوت د منهج پر بنسټ د خلافت د بیا تاسیس لپاره موږ ته نصرت (مادي ملاتړ) راکړي او داسې مشري یې پر غاړه واخیستل شي چې دوی یې مستحق دي، په پایله کې یا بريا تر لاسه کوي یا هم شهادت.

**د حزب التحرير - ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: ۱٤٤۱ /۰۱**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د محرم ۷مه**

**۲۰۱۹ م کال، د سپټمبر ٦مه**